جهاد را وتکوی او دریم‌دا چه‌ځان به تودو اوبو او د خلیج ټیلو ته ورنږدی کړی خو زمونږ مسلمان ملت هر لوی خدای (ج) باندی په‌توکل سره خپل جهاد تر پخوا هم تیز کړ اودادی بلاخرپی روسان ددی‌دومره قوت اووحشت سره سره په افغانستان کی را په ګوندو کړل . بی له دی چه کوم بری اویا د کوم مقصد له پاره چه و هغه ترلاسه کړی او د افغانستان ځمکه په شرمنده کی او خجالت وځی .

عزیزانو ! د ټور اوومه زمونږ په تاریخ کی یوه ډیره درد ناکه توره ورځ ده .

د دې شومی ورځی څخه په اختصار سره زه تاسی ته عرض کوم چه دا نتایج ټی راووتل . د یونیم میلیون بې ګناه افغانانو شهیدان کیدل ، اضافه تر پنځه میلیونه وطنوال د خپلوکورو هر پریښودلو مجبور کیدل ، په ګاونډیو او نورو هیوادو کی آواره او پریشانه‌کرځیدل دابی یوه ځمره وه دوه نیم میلیون کسان زخمیان کیدل دابی بله ځمره وه . زمونږ د اتو لکو پښتو ګوندیدل او دری نیم لکه زمونږ ماشومان شهیدان کیدل دابی بله ځمره .

لس کاله زمونږ هر پاکی خاورې د دوی ناولی قدمونه پاتی کیدل زمونږ څلښ میلیونو نفوس څخه د دوولس‌نیم میلیونو کسانو مستقیما متضرر کیدل دابی بله ځمره .

ورونو ! خو د دې ټولو تکالیفو سره دغی د ټور کودتا ځینی نوری نتیجی هم ورکړې هغه دا چه لس کاله مسلسل زمونږ د مسلمان ولس پاک‌جهاد په تش لاس صرف او صرف د الله پاک (ج) د رضا او د خپل اسلام د ساتلو دپاره د زمانی دلوی شیطانی طاقت سره‌په پوره میرانه او ثبات ادامه پیدا کیدل دی . دې کودتا دا حال هم راوستی چه دا ملت لس کاله د زمانی د لوی طاقت سره د جنګیدو توان ورته پیداکړی. دوهم روس دا د زمانی لوی وحشی طاقت د دی ټور کودتا په نتیجه کی زمونږ د ملت د قیام په نتیجه د دی مسلح جهاد په نتیجه کی هر ګوندو کیدل . دریم ، دا تاسو مجاهد ولس هغه فارمول او د ټولی دنیا هغه نظریه مو دږی وړی کړه کوم چه دنیا به ویل چه روس کوم ځای ته ولاړ شی بیا پرشا نه ځی .

د دی لس کلن جهاد یوه نتیجه دا هم شوه چه د روس دا تیوری دا فلسفه هم ماته شوه چه‌کوم‌ځای‌ته د روس فوځ تللی دی بیا چه‌مطلب ته رسیدلی نه دی شاته ندی تللی .

تاسی خلکو ؛ والله الحمد دا سور پوځ په بی عزتیې او بی شرمی‌شاتلو ته بی له دې چه جزئي ترین هدف ته ورسیږ ی‌مجبور کړ .

د دوی ځخه مو مړی و کړل دوی مو بی عزته کړل دوی مو داسی دنیا ته بی عزته کی چه‌وګوره دا یو غټ طاقت د دی‌کوچنی ملک د یوه کوچنی ښار د قابوکولو توان نلری نو داهم د دی جهاد یوه نتیجه شوه .

څلورم ؛ زمونږ اوسنۍ مقاومت یوار بیا دنیا ته ثابته‌کړه چه افغان قوم د چا غلامی نه منی او دا ملت قابل تسخیر ندی . پرون غرب ته په میرانه تاسی دا ثبوت ورکړی و او نن مو بیا شرق ته دا ثبوت ورکړ پس تاسی هغه ملت یاست چه دنیا باندی د ځمکی پرمخ باندی چه یو انسان دی هغه ته چه په مشرق کی دی‌که په غرب کی دا امتحان ورکړ چه د دی قوم شمله اوچته ده داغیر قابل تسخیر قام دی دا فقط یواځی د لوی خدای (ج) بندګی کولی شی او بس ! د بل چا بندګی ته غاړه نه ایږ دی .

پنځم ؛ لکه پرون چی د انګریزانو ماته زمونږ دلاسه د انګریزی امپرا ـ طوری د شکست ابتدا شوه . دا دول به انشاءالله تعالی په افغانستان کی د روسانو شکست د دغه شیطانی امپراطوری د دږی وړی‌کیدو علامه

وی زه یقین لرم چه د مجاهد په پاک لاس چه دی روس شکست خوړلی دی د روس دا شیطانی امپراطوری به انشاء الله تعالی دلته مضمحل کیږی او ټول اسیر ملتونه به څنی خلاصیږی .

شپږم : په افغانستان کی د روسانو شکست په ټوله نړی کی د کمونیزم شکست دی .

ټول کمونستی احزاب به نور فکر وکړی چه روسی وخپل بغل ته په یوه دیر کوچنی مملکت کی دټول قوت سره پرور واوښتی هغه ئې قا بو نشوای کړی او هغه ئی تسخیر نشوای کړای . مونږ چی د روسانو څخه لری یوپه نورو ملکو کی پراته یو په زړهاو میله څنی لیری یو . دوی به څنګه د خطر او ضرورت په وخت کی زمونږ حمایت وکړی .

ای مجاهد وروره! تا د دنیا د کمو نیزم پر سر یوه ضربه وارده کړې ده بیا دی په ټوله دنیا کی کمونستی احزاب له څا نه سره فکر وکړي چی نور روسان قا بل اکتفا الله بوالان نه دی نو دخطر په وقت کی دوی پریږدی او د دوی مبارزه هماغسی نه کامیابیږی لکه پخوا چه وه .

او و م : په ټوله نړی کی دمسلمانانو شمله دا تاسو مجاهد ینو الحمد لله اوچته کړیده .

دټول دنیا دمسلمانانو روحیات تاسو اوچت کړی دی او پر تو لو خلکو ، مسلمانانو کی مو د خپلو حقه حقوقو داحیاء لپاره روحیه پیدا کړیده .

زه به تاسی ته خپل یو شخصی سرګذشت بیان کړم په ۱۹۶۷ میلادی سنه کی یو ویشت کاله پخوا چه کله اسرائیلو پر عربو حمله وکړه او دهغوی څمکی یی ونیولی نو په هغه وخت کی زه سر بو طو سر اجع ته ولاړم او دجهاد د پاره می ثبت نام وکړ.

ما وویل : چه زه څم او د اسرائیلو په مقابل کی دخپلو فلسطینی رونو سره جنګیږم په هغه وخت کی دحکومت پالیسی داوه چه څوک یی نه استول او زه پدی کار کامیاب نشوم .

اتفاق داسی راغی چه څو کاله بعد زه فلسطین ته ولاړم هلته د هغوی سره یو ځای شوم په کومه جذبه چی زه ورغلی وم او په کومه جذبه چه مادوی ولیدل نو ما هلته وکتل چه قطعاً هیڅ یو پیرغ داسلام په نوم هلته موجود نه و .

ماوکتل چه داسلام په نوم هیڅوک جهاداو مبارزه نه کوی .ما یاسر عرفات ولیدی ما ابو جهاد چه هغه ورځ مړ شو ماولدیم، نایف می ولیدی حوا طمعه می ولید ، جارج حبش می ولید د دی ټولو چی خیالات در لودل او هغه سړی به هغه و چی ویل به یی زه یو غیر اسلامی نظام غواړم .

دانئ چه ورته کورني مظاهری دی او هلته داسرائیلو په ضد باندی مبارزې روانی دي نو چه تلویزیون ته وګوری معلو ماتو ته وګوری نو تاسی ته په ډیکاره شی چی پیرغونه څړ پیږی او څما رونه پری لیکلی دی .

الله اکبر ـ لا اله الا الله محمد رسول الله د اول ځل د پاره فلسطین په جهاد کی دفلسطین په مبارزه کی هر څه چه ورتمرویاست دتاسی د جهاد پر برکت د کلیمی شمار اوچت شو .

داول وار دهاره دا تاسی مجاهد ینو پسه هغو خلکو کی دا روحیه پیدا کړه چه اسلام یوه دکا میابی لاره ده هغوی پخوا په غیرو لارو کی خپله کامیابی پلټله هغوی نورو کورو ته پناه ورورله هغوی نورو فکرو ته پناه ورله اول واری دا تاسی خلکو په هغه سرزمین کی داسی فکر راپیدا کی چه اسلام یو قوت دی او دا دکا میابی راز دی .

نوځکه دوی مطمئن شول ستاسی په جهاد سره ، ستاسی پدی مبارزی سره پدی سره چه تاسی صرف د الله (ج) په توکل باندی روس پر ګولو و کړ . نو دوی هم د الله اکبر چیغه جګه کړه دوی خو هم مسلمانان وؤ خو پخوا

هم مسلمانان وژ پخوا یې امید نه وېخوائی فکر کاوه چې کامیابی سر او راز په نورو فکرونو او نورو دروازو کې دی . خو چې کله تاسی وروښودل چه دکامیابی راز پدی کې دی چه ته الله اکبر ووایه پدی کې دی چه (ایاک نعبد و ایاک نستعین) ووایه نو دوی یا دا شعار اوچت کړ او ولې ویل .

لااله الا الله محمد رسول‌الله په ټوله دنیا کې تا یوه ولوله راپورته کړه په ټوله دنیا کې تا دا احساس راولاړ کړ چه د اسلام د کامیابی یو راز دی . د دنیا د کامیابی یو راز دی د آخرت د کامیابی یو راز دی نو زه وایم وروره ستا دې مبارک شي تا یو ډیر غټ رسالت سر ته رسولی دی ته د دی ټولی دنیا په حقیقت کې رسول شوی . پدی زمانه کې بله خبره دا ده چه هیڅ یو کفری طاقت به یا په هیڅ یو مسلمان ملت باندی په داډه زړه حمله ونه کړي دافکر ستا جهاد د هر یو کفری طاقت ته پیدا کړی دی . چه گوره په یو مسلمان ملک حمله ونکړي چه په دوي کې د کامیابی یو داسی راز پروت دي چه که یو واري ئې د الله اکبر تکبیر ته لاس واچوژ یا به زه ضرور ماتیږم او دده په مقابل کې به خوار او ذلیل کیږم .

دهم : او بالاخره افغانستان به همیش یو آزاد او مستقل هیواد وي یا به هیڅ طاقت په دنیا کې ددی ملک نیولو ته زړه ښه نکړي . که دا د روس سرنوشت د خلکو په یاد ژ یا به د افغانستان نیولو ته زړه ښه نکړي او انشاالله او تعالی دا اوسنی سختی چه په مونږ او تاسی تیریږی یا به مونږ او زمونږ اولاد ته څوک په بد نظر ونه گوري قدرمنو عزیزانو ! راځم اوس د افغانستان موجوده سیاسی حالاتو ته په کومه مسأله کې چه زما یقین دی تاسی دلچسپی لرې او غواړی تاسی څه خبرې واوري . په اوس وخت کې د ژینو د کنفرانس د جینوا د معاهدې مسئلې ډیرې تودې دی د هغه په مسأله زه عرض کوم چه دا معاهده د دې میاشتې په څوارلسم په ژینو کې د امریکې ، روس پاکستان او د کابل د گوډاګی رژیم تر منځ امضاء شوه . مونږ د دی مذاکراتو مخالفت له ابتداء څخه کړی ؤ . هغه ته مونږ له ابتداء څخه په شک کتل او هغه مونږ د افغانستان د قضیې د یو جامع او عادلانه حل لپاره مؤثر اقدام او لاره نه ده بللی نو طبعي خبره ده چه د داسی معاهدې په احترام او عملی کیدو اوس هم مکلف نیو مونږ ته دا معاهده په دی خاطر د منلو وړ نه وه چه اوس ئې دلائل وایم مونږ ولی دا معاهده نه منله ؟ . مونږ د هغې حمایت ولی نه کاوه او اوس ولی د هغې معاهدی په موادو د هغې په احترام او د هغې په عملي کیدو مکلف نه یو . اول : د دې کنفرانس چوکاټ داسی تعین شوی ؤ چه دا د ملل متحد د منشور په کوم کې چه ټولو ملتو دست خط کړی دی په شمول د روس، پاکستان او امریکې ، د هغه منشور خلاف دی په هغه منشور کې په صراحت ذکر دی چه د ملتو نو د سر نوشت حق پخپله د ملتو نو یو مسلم حق دی په دی معاهده کې زمونږ د ملت سر نوشت ته هیڅ اشاره هم نده شوې. دمعاهدې په څلورواساسی اسنادو کې دمعاهدی په څلورو بندو کې چه د روس وتل دمهاجرینو تګ د افغانستان په داخلی چارو کې نه مداخله او بین‌المللی تضمینات دي په دی یوه کې هم زمونږ دملت سر نوشت موضوع نه ده مطرح شوې نوشکه مونږ دانده منلی .

دوهم : زمونږ دریځ داؤ اودادی چه دملل متحد مسلسلو فیصلو داحکم کړي دی ، دهغو مسلسلو فیصلو چه دداژنیو کنفرانس هم دهغه په احترام مجبور دي هغوی داسی فیصلی کړي دی چه ددی ملت سر نوشت حق به ودی‌ملت‌ته ورسپارل کیږی‌له

افغانستان څخه به روس بې قیدوشرطه اوفوري وځي‌اود قضیې دعاجل حل‌د پاره به د ملل متحد سر منشي دتولو خواو سره تماس نیسي وروڼو دا یو کار هم په دې معاهده کې ونشو .

زما وروڼو !

ما درته وویل چه یو د د ی شیانو څخه چې په دې معاهده کې دي احترام‌ئې ونشو ؛ نه پدې‌معاهده کې زما اوستا دسرنوشت حق ته‌که چاپه‌سم نظر وکتل‌نو روس‌فوري‌وځي اوس خو په نهو میاشتو کې وځي‌هغه هم‌بې له قیده نه وځي .ویلې‌بې دي‌چه زه به په هغه شرط وځم چه دا معاهده امضاء شي اوله بلې خوا دملل‌متحد سرمنشي هم خپله وظیفه اجرا کړي نه ده . د روس دخوشحالیدو دپاره ئې دذیعلاقه خوا وځځاچه یو مولپ یو نادیده ونیولو . آیا مونږ دقضیې یو طرف نیو ؟

په دې افغانستان کې آخرجنګیدې څوک دوی دروس دخوشحالیدودپاره روس دصحنې څخه ویستی اودروس د خوشحالیدو له پاره ئې زه هم له صحنې څخه‌ویستلی‌یم بس دملل‌متحد سرمنشي پخپله دملل متحد دمنشور د ملل متحد د فیصلو څخه خلاف ورزی کړیده .

کوم کسان چه پدې معاهده کې داخل دي هغوی دملل‌متحد دمنشور او د ملل متحد د فیصلو څخه خلاف ورزی کړیده . زمونږ د ملت مسلم حق ئې نادیده‌نیولی دی ځکه مونږ د د ی معاهدې احترام نه کوو او د هغې په منلو مجبور نه یو .

وروڼو ! روسانو ددې پرځای چه په دې معاهده کې بې دا تعهد کړی وای چه بیا به د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله نه کوی او د خپلو هوځونو د وتلو سره سم به خپل مزدور حکومت چه دوی‌دخپلو تانکونو په سرو راوستلی دی هم‌له ځانه سره بیا بې . برعکس او س غواړی چه د نجیب کوډاکې‌حکومت دې پر خپل ځای پاتې شي . او د عدم مداخلې معاهده د مزدور نجیب حکومت او د پاکستان د اسلامی دولت ترمینځ امضاء شوه .

وطندارانو ! په پورتنیو دلایلو مونږ دا معاهده د ملګرو ملتونو د منشور خلاف وبلله دهغې موسسې د مسلسلو فیصلو خلاف مو وبلله غیر هادلانه بې بولو او زمونږ دمجاهد ملت د جایز او مشروع ارمان د تر سره کید و لپاره بې چاره نه ګڼو .

مونږ په داسې حال کې چه د روسانو وتل د مجاهدینو یو بړی ګټو ترهغو چه خپل مسلحانه جهادته په قاطعیت سره ادامه ورکوو ترڅو د روس یو پوځي هم په افغانستان کې پاتې وی او په کابل کې‌دروس کوډاکې حکومت چه د روسی پوځ یو جز د ی له مینځه نسه وی تللی که روسان د مجاهدینو د فشار په وجه ځی هم خو که مزدور حکومت لا پاتې وی مونږ د روسانو مستقیمه او مسلحانه مداخله په افغانستان کې پای ته رسیدلی نه بولو او تر هغو به خپل مسلحانه جهاد ته په قاطعیت سره ادامه ورکوو تر څو د روس د مداخلې تول اشکال له مینځه تللی نه وي .

وروڼو ! زما یقین د ی چه روسان په افغانستان کې په تنګ شول ستاسې ځخه یې ما ته وخوړله چه اوس وځي هسې دژینو کنفرانس بې بها نه کړ . د ی به حتماً وتلای او حتماً به وځي ، نور په شرمونو وشرمید .

ای مجاهده ! ستا د ی خالی لاسو دا بیرسر او لوڅو پښو دی وشرماوه ، خدا ی (ج)دی وشرماوه .

دا ځکه چې الله پاک (ج) ستا ملګری د ی د الله پاک (ج) فرشتې ستا ملګری دي .

دی به حتماً وځي ، دی وشرمیدی اوده ما ته وخوړله . اوس داسې حالات بې راوستل چه غواړی دا شرمیدلی شکست ته یو سیاسي

بری ورډه برخه کړی.

موږچی دا مقدس جهاد صرف او صرف دلوی خدای (ج) په امر اومرسته پیل کړی د ی ا و د هغه په مرسته ادامه ورکو . لکه چه په تش لاس چه مو جهاد پیل کړ او ر و س مو پرکندو کړ اوس چـــه تر بخوا د وسایلو په لحاظ ډیر قوی یو نو که روس ووځی نو زه هم فکر نه کوم چه د هغه مزدور حکومت دی د یو خو ورځو دپاره دا ستاسی مجاهدینو په مقابل دکې مقاومت توان ولری .

زما یقین دی چه انشاء الله تعالی دوی اودا ددوی توله وسله چه اوس بی روسان ورته را استوی ا و یا بی وعده ورسره کړیده چی ورته رااستوی به بی . دغه توله به ستاسی مجاهدینو په لا س کی لویږی انشاء الله نهایی فتح او نصرت د مجاهدینو په لاس کی دی او په برخه یی دی .

دا ځکه الله پاک (ج) فرمایلی دی چی «نصر و من الله وفتح القریب» ز مو نږ د فتح او نصرت نشانی همدا ا و س لیدل کیږی . تا سی و ر ته وګورئ چه ر و سان لا تر اوسه له افغانستان څخه وتلی نـــه دی چی ولسوالی یو په بل پسی تسلیږی او دوی خپل خلقیان هـــم پـــدی مجبور و ی چه عقب نشینی و کړی ملت دا دی چی پوهیږی چی دا ټول وسایل او داخاتیان او پرچمیان دا به ټول د مجاهدینو پـه لاس ژوندی ورځی . ز مـــا خپلو ورونو ته د ا درخواست دی چی لکه څنګه چـــی د مصیبت ا و تکلیف په و خت کی بی صبره نشو ل ا و په پوره صبر او متانت بی دا تکلیف برداشت کړ او وبی زغملو . اوس چی دفتح اونصرت وخت رانژدی شوی دی هم د صبر او ثبات څخه کار واخلی ، وضعه او حالات ډیر حساس د ی .

روس پرکندو شوو اوس حتمی ډځی ، دده نظام حتمی سقوط کو ی خو اوس به روس خپل ټول توان په کار اچوی چی پدغه آخری لحظو کی زما او ستا د ا کامیابی په ناکامی رابدله کړی .

نو زه وایم چی مو ږ بایدثابت قدمه واوسو لکه څنګه چی مو په صبر او متا نت دی جهاد ته تراوسه ادامه ورکړې همد ی صبر او متانت او د الله پاک (ج) دلاری صحی ساتلو باندی متمسک اوسو ، وار خطا باید نشو ، خپلی کډی همد ا ا و س بار نکړو ، د روسانو په تبلیغ مونږ خطا نه وخو ، تر څو چی د روس آخری عسکر وتلی نه و ی او هلته ستاسی له خوښی سره ټم یو ا سلا مي نظام منځ ته نه و ی راغلی ؛ خپل جهاد ته به دوام ورکوو انشاء الله بل څل به دئور اوومه ورځ انشاء الله تعالی که موږ پدی جهاد باندی ثابت قدم ا و صا بر واوسیږو د افغانستان پـه آزاده فضا کی وخندو .

تاسی دپاکستان د صدر جنرال محمد ضیاءالحق صاحب اود صدراعظم جونیجو صاحب یان دایو څو ورځی دمخه واورید زه د هغه بیان ستاسی داطمینان د پاره وایم هغوی په خپلو بیاناتو کـــی د ا اطمینان مهاجرینو ورونو ته ورکړ چی هیڅوک به په زور سر ه مهاجرین د پاکستان څخه وله باسی اوهیڅ دول کومکو نه به پر مهاجرینو نه قطع کیږی . بلکه د بخوا په شان به داکومکونه جاری و ی .

دوی دواړو داتمهد ا کړی دی چه تر هغو به مهاجرپه پاکستان کی اوسی تر څو په افغانستان کی حالات دمهاجرو او مجاهدو پهخوښه سازګاره شوی نه وی . موږ په دوی دواړو د مسلمانانو په حیث او ددی مسلما ن ملت د قا ید ینو پـه حیث اعتماد کوو .

دوی وائی چه په تاسی باندی به کمک نه بندیږی او تاسی به هیڅوک په زور نه باسی او ترڅو په افغانستان کی حالات ستاسی په خوښه مادی شوی نه وی تاسی ته به څوک نه وایی چه له دی ځایه بارشی او په هغوی

باندی اطمینان پکار دی .

نوپدی‌اساس ورونو ، موږ اوتاسی باید صابر اوثابت قدمه او سو ځکه چیری په مهاجرینو کی داسی کسان وی چی‌هغه مذهبی‌اود سستی‌عقیدی خاوندان وی تاسی د هغوسره مرسته وکړی اوپوه ئی کړی . چه روسانو دیر ایجنټان دلته رااستولی دی چی په مهاجرینو کی روحی شکست پیدا کړی .

که چیری په کمپو نو کی ستاسی سره دکمشنری خوک بدوضیعت‌وکړی او پولیس څوک بد وضیعت کوی یدی خا طرئی کوی‌او درته وائی چی ځی‌تاسی‌هغوی‌په گوته کړی‌او په دی هکله زموږ سره تماس ټینګ کړی .

زمایقین دی چی دپاکستان دحکومت منسو بین اکثراً ښه خلک دی دوي زموږ اوستاسی دپرخدمتونه کړی‌دی اوزمادرخواست دپاکستان انصارو او پاکستانی کمشنر یو او پو لیسو د پاکستان ، دحکومت‌منسوبینو اوددی وطن وئس ته دادی چې تراوسه مو زموږ دمهاجرینو د یر قدر او عزت وکړ تر او سه مو د یر بوج او بار واخیستی تراوسه مودوروږه په فضا کی موږواتلو اوتراوسه موداانصارو مدینه غوندی مونږسره معامله وکړه .

دا یو څو ورځی دا خپل قول احسانو نه مه خرابوی . یو دیر خراب تاثر مه اوسی چه دا دومره دکمونه دا دومره خواخوږی او دا دومره دوستی او دا دومره ښکنی تاسی د روس په دسیسه د روس پر حمایه دروس په اشاره بای کړی .

او خدای (ج) نا خواسته دا مهاجر ستاسی څخه‌په خراب زړه ولاړ نشی .

زماددی پاکستان وئس پرمسلمانانو یقین دی د دی پاکستان مسلمان وئس او حکومت چه کوم حمایت زمونږ د جهاد کړی دی هغه به د



سرتیری مجاهدین پردښمن باندې ددرنو وسلو دا نداخت په حالت کې

افغانستان په تاریخ کی نوشته وی زما یقین دی چی دا ملک ددی ملک خلک که حکومت دی او که وئس دی هوښیار دی ، دا زیرک دی ،زموږ اوددوی دمشترک دښمن په دسیسو پوهیږی . دوی په مهاجر تر آخری ورځی پوری تر هغه ورځی پوری چه په افغانستان کی یواسلامی نظام‌راځی پخپله غیږ کی دیخوا په شان دورونو

یه شان وساتی اوحتی تردا اوس‌به هم ښه ورسره وکړی . ترڅو چه‌خاطره له ځانه سره یوسي .

الله پاک (ج) د پي پاکستان د کافرانو او ظالمانو د تسلط څخه محفوظ ولری او توانا خدای (ج)دی په‌دی لوی پاک سر زمین کی اسلامي نظام رایج کړی .

عزیزانو ! څوخبری دخپل‌اتحاد او دتنظیمو په هکله هم تاسی ته کول غواړم دا تحاد په مسئله زما عرض دادی چه اوس الحمدالله تر یخوا دیر دا تنظیمونه سره نژدی شوی دی .

په هفته کی حد اقل دوه وار دا ټول مشران سره کینی او د اتحاد یو مشترک دفتر لری او داسی وختونه راځی چه مسلسل یوه هفته هم سره ناست وي او پر مسایلو باندی بحث کوي.د مجاهدینو انتقالی

حکومت‌هم تعین‌شوی دی‌اوبه‌مناسب فرصت کی به به‌کار شروع وکړی .

بل دا چه هیئتونه انتخاب شوی دی او لیږل‌شوي دي دننه افغانستان ته .هغوی اوس د سروی او مطالعی په حال کی دی خو په افغانستان کی دننه د مجاهدینو د حکومت د پاره یوځای ولټوی . بل دا چه د افغانستان د انتقالی اسلامی دولت قانون جوړ شوی دی زه د اتحاد د عالی شورا د منشی په حیث په تاسی باندی دا زیری کوم چه دا قانون جوړ شوی دی او د مشرانو د عالی شوری څخه پاس شوی دی .

د مجاهدینو په مینځ کی د اختلاف د رفع کیدو دپاره هم همدا اوس د اتحاد په سطحه یوه مقتدره قضائی کمیته جوړه شوی ده .

بل کار چه شوی دی هغه دادی چه د افغانستان د بیا و دانولو دپاره یوه کمیته همدا اوس تعین او په کار یی پیل کړی دی .

بل کار دا شوی دی او آوازه ده چه روسان غواړی چه د افغانستان د جنوب څخه ووځی او په شمال کی ځان تینګ کړی .

نو داتحاد عالی شوری پدی باندی ګانی دقت کړی دی او پروګرامونه یی جوړ کړی دی څو د دی کار مخ نیوی وکړی‌د افغانستان دتجزیی مخ نیوی وکړی .

بله خبره داده چه‌دمی په «۱۵» لکه څنګه چی روسانو وعده کړې ده چی له افغا نستان څخه به په وتلو شرع کوی‌نو مجاهدیودا فیصله کړیده چه به‌کډه به دا ټول تنظیمونه یو ډیر قوی عملیات په لاره اچوی .

دوستانو عزیزانو ! روس دا داسلام او زما او ستا د عزت او خاوری دښمن اوس په نظامی ساحه کی‌شکست خوړلی دی دوی پخپله هم اعتراف کوي هر چاته هم وائی . حتی وزیر یی دننه پاکستان ته راغلی و او چاته یی ویلی و چی دا خلک ولوکه وسله نلری خو جنګی دی او موږ چی خپلو طرفدارانوته هر څومره وسله ورکوو خو جنګ نشی کولی .

ده خپله دا اعتراف وکړ چه که دوی ته هر څومره وسله ورکړو خو چی جنګ نشی کولی آخر موږ په دوی څه وکړو .

نو دوی اوس غواړی چه دا خپل شکست په یوه سیاسی مانور او په یوه سیاسی فعالیت جبران‌کړی ضمناً ما دا خبره تاسوته وکړه چون دا مهمه ده .

زه یوا تاسوته عرض کوم چه‌هوښیار اوسو څودا‌سی کار ونکړو چه دروس په مقابل کی دا کتلی جنګ خدای (ج) نا خواسته په دایوخوميا‌شتوکی دروس په دسایسو بایلو .

زما دایقین دی لکه ما چی وخه درته وویل یاله اوومه دلور به په افغانستان کی انشاالله تقبیح دوو زما دایقین دی چه جهاد دافغانستان به کامیابیږی دیری پاکی وینی به دی لاره کی دانډیوالانو تویی شوی دی ډیر مخلص کسان شهیدان شوی دی داسی‌کسان په میلیونونو شهیدان شول .

اضافه تر میلیون د چاسره چی د هیڅ چوکی او دارایی غم نه وو، چا چه صرف او صرف دالله پاک (ج) د دین دحمایت‌او دده دکلیمی‌دسرلوړی د پاره ځان قربان کړی دی اوس .

ډیرمعصوم کوچنیان‌چه هغوی هیڅ ددنیا ترخی اوخوږی ندی‌لیدلی اوهیڅ نوع امید د زنده‌ګی د چوکی او منصب نلری دایتیمان شول ډیر کورونه دیتیمانو ډک دی او ډیری کونډی ، ډیری سیاسری زمونږ او ستاسی د مهره دسرپرستی‌نه محرومی شوی دی د هیڅ یوی بڼځی دا په ذهن کی هم نګرځی چه د افغانستان پر تخت کښینی .

دوستانو ! داسی‌مخلص کسا ن شهیدان شول ، چه ما در ته وویل چه د هغوی هیڅ مادی تمه په دی جهاد کی نه وه نو الله پاک (ج) به دا وینی انشاالله نه ضایع کوی .

پاتی‌په ۳۳ مخ کی

په څمکنوکې دشړنیوادغیرعادلانه ترړون دردولوپه مناسبت غونډې ته د ډاکټر فاروق اعظم وینا :

په دې حساسه مرحله کې کوم شی چې روس د جنګ په ډګر کې بایللی دی غواړی چې د سیاست په میدان کې یې جبران کړي

درود پر محمد (ﷺ) باندی ووایاست حمد اوئنا دی الله پاک لره وی چا چې مونږ د ځمکې پر مخ خپل خلیفه تاکلی یو . د رود او صفت دی د هغه په رسول پاک وی چا چې موږ ته د دغه خلافت لار او اصول ئی را ښودلی دی . درود دې د ده په اصحابو کرامو وي چا چې موږ ته د دغه خلافت عملی تجربه را ښودلی ده .

او د چا په حق کې چې پخپله لوی خدای (ج) فرمائیلی دی چې «اشداء علی الکفار رحماء بینهم» درود دی زمونږ په امامانو وی چا چې په نه ستړی کیدو نکی زیار دا لار روښانه ساتلی ده .

رحمتونه دی د اسلام خصوصاً د افغانستان په شهیدانو وي چا چې د خپلو وینو په بیعه دا دین ساتلی دی رحمتونه دې د افغانستان پر مجاهدینو وي چا چې صرف او صرف د اسلام د سر لوړۍ او د خپلې مقدسې خاورې د دفاع په منظور د زمانې د یو لوی شیطانی طاقت یعنی روس ګولیو ته سینې سپر کړی دي. رحمتونه دی په مهاجرینو وی چا چې د دې وطن سختی ګرمۍ او یخونه ګالي دي . رحمتونه دی په حاضر مجلس وي چا چې صرف د خپل دین او مشروع حقوقو د دفاع په لار کې دوسره زحمتونه پر ځان منلي دي .

اما بعد :

فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم الم ترکیف فعل ربک باصحب الفیل ٥ الم یجعل کیدهم فیه تضلیل ٥ وارسل علیهم طیراً ابابیل ترمیهم بحجارة من سجیل ٥ فجعلهم کعصف ماکول ٥

عزیزانو ګرمی ده . زمونږ د مجلس اصلی موضوع د ژنیو ترڅنګ دی او زمونږ لنډی کنفرانس د ژنیو پرموضوع او پر اړونده مسائلو جوړ شوی دی.

د ژنیو مذاکرات چې تیره پنجشنبه د یوی معاهدی په امضاء پای ته ورسیدل نن زمونږ د مؤمن ولس سره د یوی سیاسی موضوع په حیث مطرح ده . موږ دی مذاکراتو ته د ابتدا ځخه په شک کتلي او هغه مهال د افغانستان د قضیې د یو جامع او عادلانه حل لپاره مؤثر نه دی ګڼلی . نو طبعی ده چې د داسی معاهدی په احترام او عملی کیدو مکلف نه یو . موږ ته دا معاهده په دی خاطر د منلو وړ نه وه او نه ده چې :

اول : دا د ملګرو ملتو د مؤسسی د منشور خلاف ده .

د ملګرو ملتو د مؤسسی په منشور کې په صراحت ذکر دی چه دولسونو د سر نوشت د تعین حق خپله د ولسونو سره دی . په دی معاهده کې دا اصل چې د منشور د ملل متحد

دی نه دی راغلی او څلور اساسي بند و ییدا نشته .

دوهم : دا د ملل متحد د مسلسلو فیصلو چې په هغه کې هم د افغانستان د ملت د سرنوشت حق خپله د دی مسلم ملت حق بولی ذکر نه دی شوی نو ځکه موږ ددی معاهدی سره توافق نه درلود .

دریم :- د ملل متحد د فیصلو د سریع حکم په خلاف ده . معاهده چې کوم وایي ، د قضیې د ټولو اطرافو سره باید تماس ونیول شي او عاجل ونیول شي او د افغانستان د قضیې یو عادلانه حل باید پیدا شي . مونږ په داسي حال کې چې په افغانستان کې په واقعیت سره وایو چې دوه اطرافه جنګیږي .

یو روس د یوه متجاوز طاقت په حیث بل همدا د افغانستان مجاهد ملت د افغانستان د مدافع په حیث په دی مذاکراتو کې روس د روس د خوشحالي لپاره وتلی دی اومجاهدین هم د روس د خوشحالي لپاره د مذاکراتو څخه ایستل شوي . نو ځکه موږ دی مذاکراتو ته د ابتدا نه په شک کتلی دی او فکر مو کړی دی چه زمونږ د مجاهد ملت منافع پکښې خوندی کیږی نه .

تصور وکړی چه دا څومره عجیبه خبره ده چې د ژینو په معاهده کې روس ، امریکا د کابل د ګوډاګي حکومت او پاکستان سره دی مذاکره باندی امضاء کوی په داسي حال کې چې د دی مجاهد ملت واقعي مشلین چې دا همدا مشران دی همدا تاسي خلک یاست وجود نلري او د افغانستان په تمثیل د افغانستان په نمایندګي د روس د قواؤ یو جزه د روس د بوخ جزه چې هغه د کابل ګوډاګي حکومت دی هغه امضاء کوی .

اوس روسانو ددوو میاستو په ترڅ کې دوتلو وعده کړې ده او په دی شرطیې کړې دهغهدا چهدامعاهدهبه امضاء کیږی بیا به دوی وځی . پس داد ملل متحد دمنشور دفیصلو خلاف ده اوبه دی کې دروسانو بوچل دی .

څلورم : روسان ددی په ځای چې تعهد وکړی چې بیابه دافغانستان په داخلی امورو کې مداخله نه کوی اود خپلو پوځونو دوتلو سره سم به خپل مزدور حکومت چې ددوی د ټانکو پرسر راغلی دی هم د ځان سره بیایی برعکس غواړی چې د نجیب ګوډاګي حکومت په افغانستان کې د دی معاهدی په برکت ځای پر ځای وساتی . او شرائط داسي برابر وي چې دامعاهده دی دکابل د مزدور حکومت اود افغانستان د مستقل حکومت په منزله راشی .

ګرانووطنوالو : په پورتنیو دلایلو دامعاهده دملل متحد دمنشور او فیصلو خلاف غیرعادلانه اوزمونږ دمجاهد ملت دجائز اومشروع ارمان دترسره کیدو لپاره چاره نه ګڼو .

مونږ په داسي حال کې چه د روسانو وتل دمجاهدینو بری ګڼو . تر هغو خپل مسلحانه جهاد ته په قاطعیت ادامه ورکوو ترڅو دروس یوبوځی په افغانستان کې پاتی وی او تر هغو به دی جهاد ته ادامه ورکړو ځو چې دروس د بوخ جزه (دکابل ګوډاګي رژیم) سقوط وکړی که روسان نن داستاسو مجاهدینو دفشار په وجه وځی هم ، که روسان نن ستاسی دلاسه ناکامیږی اوشکست خوری او وځی هم ، خوکه مزدور حکومت یې پاتی وی مونږ دروسانو مستقیم اومسلحانه مداخلت پای ته رسیدلی نه بولو . ترڅوچې داګوډاګي حکومت په افغانستان کې وی په حقیقت کې روس مستقیمه مداخله لري او مونږ دهغه په مقابل کې قاطعانه جهاد ته ادامه ورکوو .

مونږ دامقدس جهاد صرف اوصرف دلوی خدای(ج) په امر اوپه مرسته پیل کړی دی او هغه ته به ترآخری بری ادامه ورکوو . لکه په تیرلاس موچې جهاد پیل کړ او روس موپه

گوندو کړي اوس تر یخوا دوسائلو په لحاظ ډیر قوي یوه ټوکه روس و وځي نو زه فکر کوم چه دهغه مزدور حکومت به دیو څو ورځو لپاره هم ستاسي مجاهدینو په مقابل کي مقاومت و نکړي. که روسان هرڅومره وسله دي مزدور حکومت ته ورکړي زما یقین دی چه انشاالله تعالی دوی او دا وسله به ټول همداسي ستاسي مجاهدینو لاس ته پربوځي او انشاالله د روس په دی وسله به اسلامي نظام پیا تاسي ټاپوی.

نصر من الله وفتح قریب

گرانو عزیزانو!

مونږ دجهاد او مهاجرت په دغه مرحله کي دټولوهغو کسانو اودولتونو چي زمونږ سره یې مرسته کړي ده شکریه کوو. مونږ ددنیاټول مسلمانان وړوڼه ګڼو. افغانستان داسلامي امت یو جزء دی او قضیه یې هم د ټول مسلم او مسلمه ملت قضیه ده.

مونږ دڅرې له ټولو مسلمانانو نه په دغه حساسه مرحله کي درسته غوښتنه کوو خصوصاً پاکستان او ایران ته زمونږ هیله ډیره زیاته ده. مونږ خوښحاله یو چه ورمه ورځ دپاکستان وروړ هیواد صدر او صدراعظم دواړو افغان مهاجرینو ته اطمینان ورکړ چي څوک به دوی په زور د پاکستان هڅه نه باسي. تر هغو به مهاجر همدلته د یخوا په شان اوسیږي تر څو په افغانستان کي حالات دمهاجرو په خوښه سم نه وي راغلي، ترهغو به مهاجر افغانستان ته نه ځي تر څو په افغانستان کي یو اسلامي نظام قائم شوی نه وي. دوی دا تعهد هم کړی دی چي د دوی مرستي به افغانانو ته د یخوا په شان جاري وي

زمونږ د ځپل مجاهد ولس په هوښیاری صبر او دوراندیشي یقین دی

دوی به نه یواځي د تکلیف په وخت کي بي صبره کیږي نه بلکي د فتحي او نصرت په وخت کي به هم خپله حوصله د لاسه نه ورکوي او د خپلو مشرانو هدایاتو ته به منتظر وي زما مشوره تاسو ټولو وروڼو ته داده چه تر یخوا باید زیات محتاط هوشیار او ثابت قدم اوسو. حالات په دقت سره تر مطالعي لاندی ونیسو: ژر خپلي کډي بار نکړو، تر څو چي په افغانستان کي اسلامي نظام نه وي راغلي اوتر څو چه ستاسو دقیادت او مشر توب لاندی څخه‌و تاسوته نه وي ویل شوی چي ولاړشی او ترڅو چي تاسوته ددوی لخوا اطمینان درکړل شوی نه وي تاسو یخپل سرکار مکوی چي روس دبر مکار او دیر شیاد دی اوپه دی حساسه مرحله کي کوم شي چه دجنګ په ډګر کي بایللی دی غواړي چه د سیاست په میدان کي بیرته جبران کړي باید متوجه اوسوچه دروس ارمان باید تر آخري لحظي ترسره نشي په دی لار کي د ټولو مجاهدو قوتونو اتحاد او اتفاق تر ټولو مهم او مؤثر دی چه الحمدالله زمونږ اتفاق ورځ په ورځ ښه کیدونکي دی او تاسو ګوري چه په هرمجلس کي داشتراک ټول یو ځای ناست وي پربولین خبري کوي او ټول ددی ملت داطمینان لپاره وایي. زمونږ کارونه الحمدالله په دیر ښه وضعیت سره روان دی اوانشاالله افغانستان ته به ټول یوځای داسلام دکامیابی لپاره ځو. په خپلو کارونو او تصمیمونو کي باید پوره دقت او مشوره وکړو. مونږ ستاسو په خدمت کي یو زمونږ دفترونه ستاسو پر مخ خلاص دی زمونږ مشوری ستاسوسره دی، مونږ ستاسو وروڼه یو هر وخت تاسوته معلومات درکولی شو، هر وخت ستاسو سره خپله مشوره شریکولی شو.

لوی خدای مومل اوسه. د خپل اسلام د کامیابي او د ګران افغانستان د آزادي په دعا.

وسلام علیکم ورحمت‌الله وبرکاته.

بسم الله الرحمن الرحیم

مجاهد

در هر دو ماه یکبار نشر می شود.

سال دوم - شماره سوم - حمل ثور ۱۳۶۷ هجری شمسی

مطالب عمده ای
||
که درین
||
شماره میخوانید

۱ - سرمقاله
۲ - د جیلانیه دارلعلوم لخوا د یو شمیر مدارسو فارغانو ته بری لیکونه او ویشل شول .
۳ - ترڅوچه زمونږ په شرایطو عبوری حکومت او له منل شی بل هیڅ دول سازش د منلو وړ نه دی
٤ - د افغانستان د مجاهدینو د اسلامی اتحاد د عالی شورا لخوا د ثور اوومه ورځ د مهاجرو په ورځ ویاو کمپونو کی ونمدل شوه .
۵ - دثور د اوومی نیټی دمخدنی په مناسبت دافغانستان د ملی اسلامی جهاد د سرسیالا، داکتر فاروق اعظم وینا .
۶ - دی حساسه مرحله کی کوم شی چه روس د جنگ په وګر کی بایللی دی غواړی چه د سیاست په میدان کی بی جبران کړی .
۷ - اساسات حکومت اسلامی .
۸ - دیالکتیک د تاریخ په لوړو ژورو کی .
۹ - سیاست شیطانی روس .
۱۰ - دکمونستانو جنایتونه او د هغوی کرغیړنی ځیری
۱۱ - پیروی از مذاهب اربعه برای چه ؟
۱۲ - ...ز افغانها می آموزند .
۱۳ - عناصر صالح .
۱٤ - جنت او د هغه ځینی نعمتونه .
۱۵ - مجهولاتای روم (رح) .
۱۶ - خطرات تجزیه افغانستان .
۱۷ - سلاح و آموزش آن .
۱۸ - شهدای راه حق .

ادرس ما :
د افغانستان ملی
اسلامی مجاهد
فرهنگی ریاست
د نشراتو لوی مدیریت
پوست بکس ۵۴۲
کیانیان - پشاور - پاکستان

واسلام پرنامی

که زنها وه پیروی محمد(ص) وه

گفنی نشته پهجهان بلهرنا

(پیوسته بهگذشته)

ترجمه از: احمد رونده

اساسات حکومت اسلامی

بیانات وگفتار دانشمندان اسلام درمورد حاکمیت خداوند (ج)

کنون نظریات واظهارات امامان مجتهد ومشهور ودانشمند اسلام را تقدیم و ارایه میداریم . تا که اتحاد نظر واتفاق گفتار فقهای قدیم درمورد حاکمیت الهی اشکار گردد .

۱ - امام ابو حنیفه (رح) (وفات ۱۵۰ ه) میگوید: من بکتاب خدا(ج) عمل میکنم درصورتیکه حکمی دران بدست نیاید متمسک به سنت رسول الله - (ص) میگردم وهرگاه از کتاب وسنت حکمی بدست نیامد به قول صحابه (رض) وبخصوص آن قولیکه طرف پسندم قرار گرفت عمل مینمایم غیر ازاین به گفتار کسی دیگری فیصله وحکم نمیدهم .

امام ابوحنیفه (رح) میفرمودند که حرام است برانکه بدون ادراک ودر یافت دلیل برگفته من فتوی میدهد وبرهرکسی اظهار نظر دردین مناسب نیست تاآنکه تحقیق نکنند که شریعت محمد ﷺ این حرف را میپذیرند .

امام(رح) میفرمودند که : از عمل کردن برای ذاتی مردم(بدون دلیل) اجتناب نمایند .

۲ - امام ابوحنیفه وفات ۱۸۲ ه شاگرد امام ابو یوسف (رح) یحیی ابن یحیی (رح) میفرماید که من دروقت وفات امام(رح) ازوی شنیدم که : او از تمام فتاوی خود رجعت کرده اه باستثنای آنهائیکه به کتاب الله (ج) وسنت رسول الله(ص) موافق بودند .

ابن عبدالبر(رح) امام شعرانی (رح) وابن شامی(رح) ازهرچارامام نقل قول میکنند که گفته اند : « مذهب مان عمل به احادیث صحیح است » .

حاکمیت الهی در پرتو عقل سلیم

حاکمیت خداوندی(ج) مسئله ایست عقیدوی وایمانی برای یک مؤمن دلیلی اصلی کتاب وسنت است واگر حرفی از طریق عقل انسانی ثابت گردد سبب استحکام ایمان میگردد ،سپس چه بهتر که این موضوع دربرتو عقل هم تحقیق وتدقیق گردد .

در (۴۹) جای از قرآنکریم تذکر عقل داده شده است که هم معنی یامعنی نزدیک آن کلمه قلب (دل) که در ۱۳۵ جای درقرآنکریم تذکر یافته .

انسان ذریعه عقل وقلب داد وستد مینماید باز هم عقلی گاهی سلیم و هنگامی مریض علیل میباشد که باین جهت باوصف این نعمت بزرگ خدا - وندی(ج) بادراک اشیا در تفریق نفع وضرر کفالت کامل نمیتواند کرد . بلکه به رهنمائی خدای خود محتاج میباشد ، لذاتنها برعقل اتکا نمیتواند شد .

حقیقت عقل انسانی

کلمه عقل از باب عقل یعقل صیغه مصدری است که معنی آن بستن یا بسته کردن است. بستن اشتررا(عقل الصبیر) گویند ، فنی را معقل گویند بنا بر آنکه پناه گاه ازحمله دشمن میباشد برعقل اطلاق قلب وبر قلب اطلاق عقل نیز میشود . ازنگاه همین مفهوم اساسی اطلاق عقل به دقت وتفکر آن قوه دانش میگردد که خداوند بصورت فطری در قلب ودل انسان بوجود اورده است . حارث بن اسد محاسی (رح) میفرماید : عقل آن قدرت فکری است که بواسطهٔ آن استعداد ادراک علوم فکری پیدا میشود یعنی این روشنی است که بر قلب افگنده شده ودرپرتوان استعداد شناخت اشیاء واجناس بوجود میاید . امام ابوالحسن اشعری(رح)متوفی (۳۳۰ ه) فرموده عقل تمیز ودانش است فراست و زیرکی است که با ساس آن زندگی اصلاح میشود و انسان متوجه حکم شرعی میگردد . اطلاق عقل به علم دینی دانستن ، فهمیدن ، درک کردن در یافتن وشناختن نیز میشود .

علم در اصل وحقیقت میوه وثمر عقل است تسمیکه خوشهٔ انگوررا هم انگور میخوانند و میوه آنرا هم انگور میگویند ، همین طور قوهٔ عاقله راهم عقلی میگویند ومیوه ان (علم)ودانش راهم عقل خوانده اند .

درمراح اللغات معنی عقل به خرد ودانش شده وبمعنی دریافتن هم آمده است . قوه عاقله راعقل مطبوع معنی عقل طبیعی هم گویند وبه عقل بمعنی علم عقل مسموع یعنی علم کسبی هم نام داده اند .

اقسام عقل ازنظر امام غزالی ومولانای روم- (رح)

امام غزالی فصل هفتم کتاب احیاء العلم خودش رابه بیان حقیقت عقل اهمیت آنها ، درجات و اقسام آنها مختصر ساخته اند :

امام چار بخش عقل را بیان داشته اند :

۱ - عقل طبیعی یعنی قوه عاقله ادراک فطری ودقت وتفکر .

۲ - عقل بدیهی : یعنی علمیکه برای کسب اوردن آن غور وتعمق فکری احتیاجی نیست ونه درآن اختلاف نظریات موجود است مثلا میگوئیم که عدد(۲) بزرگتر ازعدد(۱)است .

۳ - عقل تجربی : یعنی علمیکه ذریعه تجربه بدست میآید آدم مجرب راعاقل خوانند وآنکسی راکه ازتجارب نتیجهٔ بدست نمیتواند آوردویانتیجه نمیگیرد غبی وغافل میگویند .

٤ - عقل دوراندیش : عقل پخته و رسیده ایکه متوجه انجام امری بود ، منفعت وفوت وقت رادرنظر نگرفته وخوا - هشات وجذبات بران غالب نگردیده واو برانها غلبه حاصل میکند . مثال حالت اول مانند بن درخت و مثالهای دوم وسوم همچون درخت ومیوه آن میباشد .

مولانای روم(رح) متوفی (۶۷۲ه) دوقسم عقل رابیان داشته اند :

۱ - عقل جزوی : آن عقل ماده پرستی که تابع محسوسات ومادیات باشد وپیوسته در فکر منافع مادی خواهشات حیوانی واغراض شخصی وذاتی بوده باشد ، میوهٔ این عقل او هام وشکوک است وعالم ظلمات وتار - یکهای وطن ومسکنش میباشدچه سبب بدنامی وند شهرتی بزرگی میگردد .

« عقل جزوی افتش وهم است وظن »
« زانکه درظلمات شد دور از وطن »
« عقل جزوی عقل را بدنام کرد »
« کام دنیا مرد را بی کام کرد »
(مثنوی)

۲ - عقل ایمانی : عقلیست که در

برتورهنمایی انبیا علیهم‌الصلوه دقت وفکر میکند ، دائره این عقل تنها حیوانی ، جسمانی ومنافع مادی نبوده بلکه توجه اصلی آن متوجه روحانی اخلاقی وبسوی مصلحت دایمی آخرت میباشد ، این عقل باعث اطمینان و آرامش خاطر گشته از قید خواهشات نفسانی آزاد استومقام وحیثیت‌بهره دار و حافظ تلب رادارد .

« عقل ایمانی چوشه عادل است »
« پاسبان وحاکم شهر دل است »
« عقل در تن حاکم ایمان بود »
« که زبیش نفس در زندان بود »
(مثنوی)

مولانای روم در دفتر چارم مثنوی خویش انسان راسه نوع خوانده اند:

۱ - عاقل‌تام یاکامل : که‌نورنبوت و مثال رسالت را با خود داشته باشد این انسان قائد ورهبرورهنما است .

۲ - نیمه عاقل : که صاحب نور (نبی ص) را روشنی ونور چشمانش گرداند هرچه را با آن نور و روشنی مشاهده کند ودرهرامرو معاملهٔ برآن چنان .اعتماد کند قسمیکه کوری به رهنمایش اعتماد مینماید .

۳ - شقی بی همه چیز : که همآ و تماماً خر (مرکب) بوده که‌نه ازخود نورو روشنی داشته میباشدونه‌صاحب نوری را بصفت قائد خویش‌میشناسد .

« عاقل آنباشد که باابو مشغله‌است »
« او دلیل وپیشوای قافله است »
« دیگری نیم عاقل آمد او »
« عاقلی را دیدهٔ خود داند او »
« دست دروی‌زد چوکور اندر دلیل »
« تا بد و بینا شد وجست وجلیل »
« وان خری‌کزعقل حوسنگی‌نداشت »
« خودنبودش عقل وعاقل راگذشت »
مثنوی دفتر چارم

مولانای روم (رح) عقل تمام را جای دیگری عقل کل گفته ونورآنرا به آفتاب تشبیهه کرده ، ابن عقل مانند مشک است وعقل مردم عام و یاعقل عوام همچون عطرو خوشبویی آنست .

« هست عقلی همچو قرص آفتاب »
« هست عقلی کمتر از زهرهٔ شهاب »
« عقلهای خلق عکس عقل او »
« عقل او مشک وعقل خلق بو »
« عقل‌کل ونفس‌کل مرد خداست »
« عرش‌وکرسی‌رامدان‌کزوی‌جداست »
« مظهر حق است ذات پاک او »
« زوبجو حق را واز دیگر مجو »
(دفترپنجم‌مثنوی)

منشاء اصلی عقل‌انسانی

از تفصیلات فوق معلوم گردیدکه باساس گفتار امام غزالی رح (عقل دور اندیش) وباستناد قول مولانای روم رح (عقل ایمانی) بمعنی صحیح وواقعی ان عقل سلیم است ودایرهٔ اصلی ودرست آن اینستکه در پر تو وحی الهی دقت وتأمل میکند . بنا اگر عقل خود کفالت میکرد پس خداوند (ج) نه انبیا علیهم الصلوه ونه کتب آسمانی رامیفرستاد درقرآن کریم همین علت سبب بیان گردیده درسوره بقره آیه ۶۳۲ - ۶۴۱ - بعد تذکر وبیان برخی از احکام مهر طلاق ووصیت فرموده استکه بهمین نهج خداوند (ج) بیان میکند بشما احکام خودش راتاآنکه فکر کنید و بدانید درسورهٔ نور آیهٔ (۵۸ - ۶۱) پس از بیان قوانین خانواده وخارج از آن فرموده است :

همین گونه خداوند(ج) احکام خودش رابشما بیان مینماید تاآنکه‌شما فکر کنید وبفهمید .

درسورهٔ یوسف (ع) میفرماید که : «ما این کتاب(قرآن) را بزبان عربی نازل کردیم تاکه شما فکر کنید و بدانید . » مقصد وغرض آیات مبارکه اینستکه عقل آزاد انسانی از وحی قانون معتدل برابر ونافعی را معلوم نمیتواند کرد ، کاراصلی عقل‌آنستکه درداخل عمق تفهیم خداوند(ج)غور وفکر کند . زیرا بدون وحی الهی و رهنمودهای انبیای کرام علیم‌الصلوة با منکرین آزاد وآنانیکه برای خود درجستجوی راهی اند قرآنکریم سفها (بی عقلان) گفته است . (البقره آیه ۱۳ - ۱۳۰ - ۱۴۱ دیده شود » .

در علوم طبیعی حقایق تااندازه‌ای از عقل وتجربه برملا میگردد . راه در دایرهٔ الهیات واخلاقیات به عقل

انسانی هیچ حیثیتی بعقل داده نشده چه احتمال اشتباه درآن در هر وقت موجود است .

امام غزالی (رح) میفرماید : هنگا - میکه بعد علم کلام بمطالعه فلسفه پرداختم پس ازگذشت سه سال مطالعه دریافتم که : حتی اگرمن به هرانچه در فلسفه است بفهمم باز هم در ان تا حدی سخنان فریبنده هست گرچه تا اندازه سخنان درست هم دارد ، گپ های خیالی هم دارد . برایم چنان اطلاعی داده شدکه دران شک وشبهۀ وجود ندارد .

امام فخرالدین رازی رح متوفی (۶۰۶ه)که استاد فلسفه ومنطق بود درمورد تقریباً (۲۰) کتاب نوشته بالاخره باین نتیجه رسیدکه :«من تمام طرق علم کلام وفلسفه را امتحان کردم که هیچکدام آن نه تشنگی تشنه ایرا فرومی نشاند و نه علاج مرض مریضی را مینماید دیدم که طریق نزدیک وآسان راه قرآن است » .

ابو اسحق الشاطبی میفرماید : از آغاز جهان تاامروز ازتجارب وعلوم متداوله ودانش این سخن مستفاد میشود که :

عقول در بدست آوردن مصالح و احتراز ازمفاسد قوت مستقل ندارد .

فیلسوفی چون علامه اقبال (رح) مجبور به چنین اظهاری گردیده :

تنها به نام وعقل پیمایه کسی امام ورهبر نمیتواند شد چه هر گا هیکه گمان وخیال رهبر ورهنما گردد در آنوقت بسوی تباهی میرود . ازتمام کج وپیچ های زندگی گذشته وعبور نموده‌ام ، پس ای مولا یم حال مرا دیوانگی وجنون به بخشای من تمام علوم شرق وغرب راخواندم لکن در روحم تا حال درد وتکلیفی با قیست تمام‌هستی غلام جلال ازلی اوتعالی است . محض قلب است که همه وقته باعقل درستیز میباشد » .

تفصیل دلائل عقلی :

دلیل اول : نخستین ، بزرگتر وقویتر ازهمه دلایل، اینست که آنکه خالق است، مالک وانکه مالک است حاکم نیز میباشد ، هیچگاهی عقل سخنی را نمیپذیرد که چیزی را یکنفر باکسی ساخته باشد و آن در ملکیت دیگری باشد مگر اینکه باستیذان از مالک درآن تصرفی کند لیکن مالک مستقل بالذات کسی است که خالق آنست واین وا قعیتی که بر غلام



ومملوک تنها حکم آقا ومالک اونافذ است حقیقتی است که بعقل بدیهی ثابت شده است ، وبراي معلوم کردن آن دقت وفکر زیادي بکار نیست . تنفیذ قانون ساخته عقل بشر وانسان بر انسان خلاف مغایر حریت آزدي شرف وکرامت است . تصور آزادي دراسلام عزیز این نیست که قومی ازغلامی قوم دیگری ویا مملکتی از اسارت مملکت دیگری آزاد گردد بلکه آزادی واقعی وحقیقی اینستکه انسانی از غلامی انسان دیگری برآید وغلام وفرمانبردار خالق حقیقی خود گردد . از قانون مروج وطن وساخته قوم ییروی واطاعت هم یکنوع غلامی است ، آزادی اینستکه انسان از غلامی واسارت مخلوق آزاد شود وغلامی وبندگی خالقش را اختیار نماید مثل اینکه علامه اقبال میگوید

تا نه رمز لا الله آید بدست
بند غیر الله را نتوان شکست .

یعنی رمز لا الله در اینستکه بجز بندگی خداوند (ج) زنجیر غلامی هر کسی دیگری گسسته وشکستانده میشود .

دلیل دوم : عقل انسانی مخلوق است ودر فطرت مخلوق فقر واحتیاج شامل است ، بس باین لحاظ قانون عقلی از نقص ، عیب اشتباه وسهوه بری نمی باشد ، لیکن خداوند ذات غنی وصمد است یعنی از هرنوع احتیاج بی نیاز است ، بناءً قانون او تعالی هم بری از هرنوع نقص وعیب میباشد . آنکه دهری و منکر از خدا نباشد در قول این ادعا و سخنان درنگ نمی کند خداوند نه در وجود خود محتاج بغیر است ونه در علم اوبار یتعالی (ج) ضرورتی بمعلمی واستادی هست و اما انسان در ذات خود هم فقیر ومحتاج وهم در فکر وتعقل خودش به آلات و اسباب عام نیاز مند است ذریعهٔ ووسیلهٔ علمش حواس پنجگانه است که هیچکدام از اشتباه خالی نیست توسط همین حواس و باسامر آنها درک عقل وفکر کامل آن باز هم مستقل نمی باشد .

وباساس ادراک ناقص وناکافی علم قطعی مصالح بدست نمیتواند آمدوبیش ازیش گمان وقیاس میگردد. باساس واستناد احساس وتجربه عقل انسانی در چار چوب علوم ساینس وطبیعی کار کرده میتواند واما در چوکات اخلاقیات و اجتماعیات احساس وتجربه قاصر وعاجز است به آن جهتکه قانون اخلاقی ومدنی در امور قابل احساس نبوده بلکه این امور معنوی است وتجربه در امور مادی وحسی بعمل میاید هر گاه چیزی بدست آید انهم عاری از اشتباه نمی باشد .

(دراداهه دارد)

په لیږه بحث

دیالکتیک

د تاریخ په لورو، ژورو کی

عبدالله گل ریان

لږ څو نی یو نا ن :- په فکری جریان کی چی دیالکتیک د مبا حثی دفن یا جدالی سیر په ډ و ل استعمال شویدی خو ر ا اوږد تاریخ لری ، د سقر ا ط او افلاطون پـــه ا صطلاح دیالکتیک د فکری ر و ش او جریان لو م و .

سقراطی ر و ش چی ئن هم په همد ی نو م یادیږی دا و چی عقا ید او ا فکا ر به بی سره مخا مخ کو ل په دی معنی چی که په هغه وغوښتل چی مسایل حل کړی ، لومړی به بی هغه تجز یه او تحلیلو ل او له خورا ساده لوری به بي پیل وربا ندی کاوه څو به مغلق حد ته ورسید .

وایي چی دسقراط دا تحلیل د پوښتنی په توګه وه ، هغه به ویل چی مور می قابله (دایه) وه او زه هم د هغی په ر و ش د افکارو په زیږیدلو کی له خلکو سره مر سته کو م ، څو هغوی دخپل فطرت سره سم مطالب درک کړی ، ګنی زه هغوی ته څه نه ورکوم .

د افلاطون روش هم دیالکتیک نومیده ، خو چی کله دارسطو وخت ر ا غی ، منطق بی تر تیب کړ ، خو عا مه مبا حثه بی دیالکتیک ونه بلله بلکه د برهان او جدل تو پیر بی وکړ .

هغه چی هلته پکی د حقا یقو پلټل او تر لا سه کو ل مطلب وی برهان یا مبا حثه ده خو چی کله په مباحثه کی هدف یو ا ځی خپل نظر غالب ثابتول وی نو هغه جدل بلل کیږی نه برهان ، د بر هـا ن او جدل یو تو پیر دا هم دی چی پـــه برهان کی په هغو حقا یقو استناد کیږی چی سل په سلو کی یقینی وی چه هغوی شپږ ګونی مبادی دي لکه : لومړنی بد یهیات ، مشا هـد ا ت ، فطـر یا ت تجر بی ، متواترت او حدسونه .

خو د جد ل مبادي سل په سلو کی یقینی نه وی یو ا ځی یوه لوری ته قبو ل وی.

ا رسطو جدل ته د یا لکتیک ووایه او له اصلی مباحثی او برهان څخه بی راګوښی کړ .

هیګـــل :- هیګل خـــو ځینی پوهـا ن ایدیالست ګڼی او ځینی بی ماتریالست ، اما هغه ځانته پوه فلسفه لری ، چی نه د ا یډ یا لست اطلاق وربا ندی کیږی او نه د ماتریالست . ایډیالست او ما تر یا لست خو هلته پیدا کیږ ی چی ر و ح او ماده دوه ځانته ا صلو نه وګڼی او بیا که روح اصل وشمیری او ماده د هغی تابع او اعتباری وګڼی نو هلته ایډیالست بلل کیږی ، خـــو کـــه ما د ه اصله وبولی او معنی د هغی ا نعکا س نو ماتریالست بللای شی .

هیګل اصلاً دروح او مادی په ځانته و ا لی قا یل نه و ، بلکه هغه د و ا ړه یو ګټل ، په دی د و ل چی

ماده او معنی د یـوه څیز دوه مخونه دي.

هیګل د ارسطو د لومړنی علت اصل نشوای توجیه کولای، لومړنی اصل چې په ارسطوی فلسفه کې داسی ښودل شوی و چې په طبیعت کې حرکت شته چې حرکت علت غواړی، او لومړنی علت باید د طبیعت له دستګاه څخه و تلی او بهر نی وی په دی دول لـه مادی څخه فوق (ماوأرا الطبیعه) محرک له ضرورت شته چې پـه طبیعت کې تحرک راولی او یا د ټولو علتو نو لومړنی علت یوې علته علت وی خو هیګل دلومړنی علت په څای چې له طبیعت څخه و تلـی وی، د هستی دستګاه داسی توجیه کړه چې هره هستی له څان سره خپله لیستی هم لری او د دی هستی او لیستی له ترکیب څخه بله هستی پیدا کیږی چې هیګل هستی - لیستی او دوهمه هستی دتز- انتی تز او سن تز په نوم نو و نومول، هغه وایي چې هر څه دی ددی دستګاه په دننه کی دي اوله دی دستګاه څخه بهر څه شی نشته او دا منطقی ضرورت دی چې دتز او انتی تز نتیجه به سن تز وی، خو دا دری مرحلی به په یوه دستګاه کی وی چې په دی تحلیل به نودمادی او معنی بیل والی نامکن وی حتی خدای هم د هیګل به عقیده د طبیعت د دستګاه په دننه کی دی.

ه غه وایي چې د لومړنی علت اصل په دی د منلو و ړ ندی چې یا هم د وروستنی علت په هکله دا پوښتنه پیدا کیږی چې د هغه علت بیا څه دي، نو د طبیعت د دستګاه د توجیه لنډه لاره داده چې د دلیل د لاړی او د منطقی استنتاج له لوری د طبیعت په دستګاه کې حرکات د هغه په داخلی تضاد منتهی شی په دې حساب به نو د منطق سا حه له ذهن څخه عین تـه هم پلی شی او هر څه چې ذهنی وی هغه به عینی هم وی او کوم څیز چې عینی او واقع وی، ذهنی به هم وی نوکوم قوانین چې د ذهنی او صوری منطق دی، هغوی به د تو لی هستی په میدان کی هم وی، په دی لحاظ د هیګل پـه عقیده د علت سلسله تجربی ده او د داخلی تضاد لړی عقلی ده او دا توجیه په دیالکتیک کیدلای شی، چې د تز او انتی تز پروسه به په طبیعت کی هم جاری وی خو دا چې دا منطقی مقولی دی. د دی لپاره چې د لومړنی علت معضله ده نه حل شی نو ذهنی او عینی څیزونه بی یو و ګڼل څو په طبیعت کی هم دمنطقی ضرورت په اساس لومړنی علت په خپله دستګاه کی پیدا شی.

د هیګل په نظر د هستی دستګاه یو کلی او مطلق واحد دی، په دی دستګاه کی چې انسان هر څه درک کړی هغه واقع دی، واقع باید د انسان په عقل کی محقق شی د هیګل په عقیده دا مطلق یـو واقعی او خارجی مطلق دی، چې د مکان او زمان له ظروفو څخه و تلی دی او دا مطلق د جهان روح دی، چې ادیان یی خدای ګڼی.

د همهغی روح، عقل د طبیعت په شکل څان شکاره کوی چې: تاریخ تولنه او افراد د هغه اجزاوی دي او دا اجزاوی یو دیالکتیکی جریان لری چې هغوی د لهابي سنتز او وروستنی کمال (خدای) پـه لـور درومی.

له همدی کبله څنی فلاسفه هیګل په وحدت الوجود قایل بولی.

په هرحال دا چې د هیګل فلسفه څه، یا له حقیقت څخه څومره لری ده خو څا نته بحث غواړی، اما یوی موضوع ته اشاره کول په کار ده چې ددیالکتیکی منطق او صوری (ارسطوی) منطق توپیر یکی روښانه شی.

څنی وایي: سړه له دی چې په فلسفی مکتبو نو کی تو پیر شته خو پـه کلی د ول دوه فلسفی یکی عمله دي چې لوری فلسفی د هغوی

په شا وخوا راګرځي .

یوه فلسفه دا ده چې تـــول موجودات دهستی هغه حالت لري چې ثابت دی ، په زمانه پوري اړه نلري یعنې وو ، شته او یا به هم وی .

بل فلسفی نظر دا دی چې هر څه د تحول او تکامل په حالت کې دي هغه څه چې وو او س په هغه دول نه دي او یا به د او س په دول نه وی .

کولای شوای د ا فلسفی په (شته) او (کیدلو) باندی تعبیر کړو په دری ډبه کې و ر ته د (بودن) او (شدن) الفاظ مصطلح دی .

د شتو په فلسفه کې دری اصله پایښت لری چې کوم بدلون پکې نه راځي لکه روح ، حقیقت او اخلاقي اصول .

د کیدلو (شدن) په فلسفه کې خو حقیقت موقت نسبي بولي، اخلاقي اصول د تل لپاره ثابت نه ګڼي بلکه د ټن دروغ د سبا رښتیا وی ، د پرون رښتیا دټن دروغ دی . او روح خو حتې‌ایو څا نته حقیقت نه ګڼي بلکه هغه د مادي جز او یاد مادي خاصیت تعبیر وی .

مارکسستا لو منطق په دوو برخو تقسیم کړ ، یو جامد (متافیک) او بل دیالکتیک (د ینا میک) جامد منطق چې د هغوی په نظر صوری منطق دی ، د شتو(بودن)په فلسفه ښښیږی خو د دیالکتیک منطق د کیدلو (شدن) په فلسفه پای ته رسیږی .

د شتو په فلسفه کې کمال شته خو په بله کې تکامل جاری دی .

تکامل ، چې هر څه په تحول کې دی ، هستی او نیستی سره ګډوی هر څه مرګ لري خو دا مرګ د بل لپاره ژوند وی ، د هر څه ګور د بل لپاره ګهواره (څانګو) وی ، هر څه د خپل موجودیت تصدیق او انکار کوی ، او یا د انکار ، انکار کوی چې دا همهغه پیژندل شوی تز، انتی - تز او سن تز دی .

د وجود (شتو) په فلسفه کې اخلاقي اصول لکه عدالت ، رښتینولی عفت او ... تل ښه دی ، خو د تحول په فلسفه کې هیڅ اخلاقي اصل ثابت نشته .

مارکسیزم چې د دوهمې فلسفې پیروی ده ، همدا ټول اخلاقي اصول د هر وخت د اقتصادی وضعې تابع ګڼي ، تر دې چې دروغ د انقلاب د پاره په مرسته ګڼي اخلاق ګڼي خو عفت ورته بې مفهومه کلمه ده، تزور او وحشت عدالت بولي خو تقوی او انصاف د انقلاب خنډ بولي

په مارکسیزم کې هیڅ شی ته د ثابت مقام ندی ورکړل شوی ، خو که هر څه بدلون وشي چې د دیالکتیک اصول متغیر دی او که ثابت ، نو مجبور دا ته خو اب یا متغیر وی یا ثابت ، که ثابت وی ، د ثبات دلیل او ضامن ټې څه شی دی ، څکه هر دیالکتیکي اصل یا باید د تز، انتی تز او سن تز مراحل تیر کړی ، خو موږ ته نه معلومیږی چې دا اصول په کومه مرحله کې ثبات ته رسیږلی دی . او که دا اصول متغیر وی نو دا پوښتنه پیدا کیږی چې په طبیعت کې تر دیالکتیکي اصولو مخته کوم قوانین جاری وو او د دې اصولو څای په په را تلونکې کې څه شی نیسي .

